د سورت حجرات (۱۰) آيت کې الله(جل جلا له) فرمايي (مؤمنان سره وروڼه دي نو کله چې د دوی ترمنځ شخړه پېښېدله تاسې يې په منځ کې سوله کوئ) معنا دا چې څوك هم په الله(جل جلا له)، محمد صلی الله عليه وسلم او قرآن کريم باندې ايمان لري نو هغوی به په خپلو منځونو کې سره وروڼه وي او که خدای مه کړه، کله د دوی ترمنځ کوم خفګان او لاتجه پيدا شوه نو نور مؤمنان مکلف دي چې د هغوی په منځ کې سوله او جوړجاړی وکړي، او پرېنږدي چې هغوی له يو بل سره خفګان او جګړه ولري.

د سورت انفال په (۷۳) آيت کې الله(جل جلا له) فرمايي (کافران په خپلو منځونو کې سره دوستان دي نو که تاسې هم سره دوستان نه اوسئ، ستره فتنه به جوړه شي) علماء دلته له فتنې نه دا معنا اخلي چې د اسلام مخالفين سره يو لاس او يو موټی دي، چې دغه کار هغوی ته قوت او تأثير بښلی دی او مسلمانان بيا سليقوي او فرعي تفاوتونو او اختلافاتو سره وېشلي دي چې په دغه کار سره يې اغيز او قوت له لاسه ورکړی دی او د نړۍ په سطحه د توت د پاڼې په څېر ارزښت هم نلري.

الله(جل جلا له) د آل عمران د سورت په(۱۰۳) آيت کې مؤمنانو ته په خطاب کې وايي چې تاسې خو د اسلام له راتګ نه وړاندې د داخلي کشمکشونو او جګړو له امله د تباهۍ په کنده ولاړ وئ، يوه قوم به له بل سره جګړې کولې، الله(جل جلا له) درباندې احسان وکړ، ستاسې ترمنځ يې د پېړيو دښمني او کرکه ختمه کړه او داسې يې سره نزدې کړئ چې د الله (جل جلا له) په فضل او کرم سره وروڼه وګرځيدئ.

دغه راز د سورت انفال په (۶۳) آيت کې فرمايي (الله(جل جلا له) د مؤمنانو ترمنځ د زړونو نزدې والی ټينګ کړ، که دې د ځمکې پرمخ شته څيزونه ټول لګولي وای نو د دوی زړونه به دې داسې نه وای سره نزدې کړي، خو الله(جل جلا له) سره نزدې کړل).

پدې آيتونو کې د مؤمنانو ترمنځ جوړجاړی، اتفاق، يو والی او سوله د الله(جل جلا له) ستر فضل او پېرزوينه بلل شوې ده او قومي او ګوندي شخړې تباهي او د اور د کندې پرغاړه درېدل بلل شوي دي، نو څومره بدمرغه ټولنه او ولسونه به وي چې د الله(جل جلا له) فضل او احسان ليرې غورځوي او د کورنيو شخړو او کشمکشونو فتنې راولاړوي او په لوی لاس ځانونه، قومونه، پرګنې او ولسونه د اور د کندې پرځنډه دروي.

افغانستان چې د لسيزو نه را پدېخوا د جګړو، کورنيو شخړو او لاتجو په اور کې ګير دی، تر بل هر هېواد زيات سولې، کراري او استقرار ته اړ دی، او ملت مو د سيمييزو او نړيوالو جګړو قرباني دی، هغه چې ګټې يې نور اخلي خو زيان او تاوان يې همدی ګالي، تر بل هر ملت زيات وحدت، اتفاق او يووالي ته اړتيا لري او دغه دواړه اړتياوې او ضرورتونه يوازې هغه مهال برابريدلی شي چې د کور دننه اتحاد او اتفاق ولرو، د ځان غوښتنې، ګوند غوښتنې او قوم غوښتنې پرځای د ملت غوښتنې روحيه ولرو، د وړو وړو کورګکيو پرځای يو لوی او ستر کور ودان کړو، د وړو وړو چترونو پر ځای تر يوه او پراخه چتر لاندې راټول شو، داسې يو واقعيت جوړ کړو چې هرڅوك پکې خپل ځان ووينې، هېڅوك د کمي او پرديتوب احساس ونه کړي، ټول د يوه وطن بچيان واوسو، او په مينه او محبت ژوند وکړو او په شريکه د خپل هېواد په جوړولو کې ونډه واخلو.

نن د نړۍ په سطحه هم د بېلوالي او وړوکي کېدو په ځای د نزدې والي او ګډيدو طرف ته هڅې روانې دي، مونږ وليدل چې اروپايي هېوادونو ـ چې پخوا يې پر خپل منځي جګړو کې بې شمېره انسانان سره وژلي دي او د کرکو او نفرتونو دېوالونه يې ترمنځ ولاړ وو ـ يوه ټلواله جوړه کړه، د غړو هېوادونو ترمنځ يې د سفر پرمهال د ويزې او پاسپورت شرطونه له منځه يوړل، کرنسۍ يې سره يوه کړه، اوس په ټوله اروپا کې (يورو) کارول کېږي او په دې ترتيب سره يې ترمنځ کښل شوې پولې او سرحدونه پرانستل، او دا يې نړۍ ته ثابته کړه چې که عزم او اراده وي نو هر مثبت کار شونی دی.

حقيقت دا دی چې انسانان څومره سره وېشل کېږي، په هماغه اندازه يې د مزيد وېش لپاره زمينه برابريږي، يو ملت که په څو قومونو ووېشل شي او هر څوك د ملت په ځای د خپل قوم غړ پورته کړي، نو خبره په همدې ځای نه درېږي، بلکې د همدې قوم دننه هم وېش پيل کېږي او بيا به هر څوك د خپل واړه قوم ناره پورته کوي او په واړه قوم به هم خبره ونه درېږي بلکې د ټېر او کورنۍ په سطحه به کشمکش پيل شي او بيا به د يوې کورنۍ د ننه د تره زامن سره په خپلو کې لاس او ګرېوان وي، چې تر هغه وروسته بيا د وروڼو ترمنځ هم د کشمکش زمينه جوړه شي او پدې ترتيب سره د انسانانو ترمنځ کرکې، بدبينۍ او ناوړه حساسيتونه وجود ته راشي او فضا داسې کړکېچنه شي، چې د هېچا په هېچا هم باور پاتې نشي، او هغه د چا خبره له انسان نه داسې يو موجود جوړ شي چې د ورځې يې په نورو نيت بد وي او د شپې پر خپل ځان! که وېش د سيمو، سمتونو او ولايتونو پر سر وي،

نو خبره بیا هم په همدې ځای نه تم کېږي، بلکې دغه وېش د ولسوالۍ او کلیو په سطحه غځېږي او د هرې سیمې خلك به هڅه کوي چې د بلې نه زیات له حالاتو څخه مستفید وي چې همدغه بیا د کلیو او سیمو ترمنځ د ټکرونو او جګړو زمینه برابروي، یو بل ته لارې سره نیسي او د یو او بل سره د مرستې او تعاون پرځای، د هغوی لپاره سردرد او خنډ جوړېږي.

که مونږ ملت ونه اوسو او د قومونو او سیمو پر عنوان سره وېشلي واوسو، نو دغه زمونږ د هېواد لپاره ستره بدمرغي جوړوي، او داسې ستونزې پیدا کوي چې بیا به نو پدې وطن کې هېڅوك هم ترې خوندي نه وي د بېلګې په توګه:

- د هېواد په سطحه ناکراري ایجادوي، ځکه چې هرڅوك که هرڅومره په سیاسي، اجتماعي او نظامي سطحه مطرح وي، نو نور خلك به یې د ده د استعداد او وړتیاوو په پرتله د یو قوم، ګوند او یوې سیمې غلبه او برلاسی ګڼي، چې دا بیا له هغه سره د مرستې او همکارۍ پرځای د هغه د ناکامولو او له واك نه د لیرې کولو د هڅو یوه تسلسل ته زمینه جوړوي، او په نتیجه کې ناامني او بحران رامنځته کېږي.
- د تعصب او وېش په نتیجه کې ناسالم رقابت پیل شي، چې د ښو هدفونو پرځای بیا تر ډېره غلط اهداف ټاکلي او لاس ته راوړل کېږي، چې پدې اړه بیا د ناروا او ناوړه وسایلو کارولو ته هم زمینه جوړېږي او په پایله کې د یوه ملت د بېلابېلو برخو ترمنځ داسې کشمکش پیل شي چې د هېواد سالمیت او د ملت راتلونکی تر پوښتنې لاندې راولي.
- تعصب او وېش یوه داسې بې باوري رامنځته کوي چې د یوه ملت خلك به په یو بل باندې اعتماد نلري، د دوو بېلابېلو ژبو ویونکي، د دوو بېلابېلو سیمو سره تړاو لرونکي او د دوو بېلابېلو قومونو مربوط خلك به له یوبل نه وېره محسوسوي، د یوه ډېر اړین او ضروري کار لپاره به هم د یوه او بل د اغیز او نفوذ سیمې ته نشي تللی، نه به څوك د یوې کاري دندې او وظیفې په خاطر له خپلې سیمې بهر ته سفر کولی شي، نه به د تعلیمي او تحصیلي اړتیاوو د پوره کولو په موخه او نه به هم د تجارتي او اقتصادي اړتیاوو لپاره، چې دا په خپله د یوه هېواد او ملت لپاره د وژونکو زهرو بڼه لري، ځکه چې بیا به هر قوم او هره پرګنه په یوه وړه سیمه کې کلابنده وي او په ټوله کې به تعلیمي، تحصیلي، اجتماعي، اقتصادي او سیاسي خوځښت او پرمختګ په ټپه ولاړ وي.
- د وېش او تعصب له امله د کورنیو ترمنځ شخړې او کرکې را پیدا کېږي، ځکه چې تر اوسه چې څومره رابطې او اړیکې موجودې وې، په ځانګړې توګه د خپلوۍ اړیکې هغه له قومي او سمتي ملاحظو نه پورته وې، او د هغو په نتیجه کې د ګڼو قومونو او سمتونو خلك او د ګڼو ژبو ویونکي خلك په خپل منځ کې سره تړل شوي دي، چې د تعصب او کرکې فضا به دغه اړیکې هم له ګواښ سره مخ کړي، چې دا د شریعت سره خلاف کار دی او د انساني غوښتنو سره هم مخالفه ده.

له بده مرغه زمونږ سیاستوال ملي دریځ نه نیسي، ملي تفکیر نلري، د ملت د ګټو په اړه لومړیتوبونه نلري، هر یو د خپل قوم، ټبر او ګوند په محور څرخي او له همدغه ځایه ده چې سیاسي ګوندونه هم د قوم او ژبې په اساس او بنسټ جوړ شوي دي او له همدغه ځایه د مسایلو او قضایاوو په اړه قضاوتونه کوي او دا نو د دې په ځای چې مشکل حل کړي او هېواد او ملت ته ګټه ولري، برخلاف ستونزې لویوي، واټنونه او فاصلې زیاتوي او بې باوري او بې اعتمادي ته هوا ورکوي او په نتیجه کې یو ملت په څو برخو او ټوټو سره ویشي .

پدې باندې هم هر افغان پوهېږي چې سوله یوضرورت دی او په جګړه کې زمونږ هرڅه له ګواښ سره مخ دي، که اقتصادي، سیاسي، علمي، تخنیکي، فرهنګي او هراړخیز پرمختګ غواړو، نو سوله ورته اړینه ده، نو ځکه خو مونږ اړ یو چې باید د جګړې عوامل له منځه وباسو،ټول هغه ټکي چې د افغانانو ترمنځ د اختلاف لامل دي، د یو قوي، صادقانه او مخلصانه تفاهم له لارې تربحث لاندې ونیسو او بالاخره یې یو طرفه کړو.

د ملي زعامتونو او ملي سیاستوالو کار دا وي، چې د ملت د بېلابېلو ډلو، لوریو او قومونو ترمنځ د کړکېچ او کشمکش نقطې ختمې کړي، هغوی خپل منځي تحمل ، صبر او زغم ته راوبولي او هغوی ته داسې کاري ستراتیژي مخې ته کېږدي چې ټول پرې بوخت او لاس په کار شي او په دې توګه د هېواد فضا له بحران نه ډاډمن حالت ته ووزي، پرمختګ پیل شي او پدې توګه هر څوك دلته له ژوند نه خوند واخلي.

جمعیت اصلاح د یوه ستر دیني او ملي خوځښت په توګه دا دنده او مسئوولیت ګڼي چې د هېواد سالمیت او ځمکنۍ بشپړتیا خوندي وساتي، د ملي وحدت ښېرازه مزبوته کړي او له ټولو هغو توطیو او دسیسو سره مقابله وکړي چې زمونږ د ملت وجود، راتلونکی او ګټې تهدیدوي، په همدې موخه یې پخوا هم د خپلو رسنیو له لارې او هم د حقیقي تعامل په وسیله هڅه کړې ده چې افغان مسلمان ملت په رښتیا د یوه ملت په توګه وساتي او پرېنږدي چې په بېلابېلو ډولونو او شکلونو سره ووېشل شي.

جمعیت اصلاح د ملت د وحدت د تقویې او ټینګښت او د هر ډول تعصب او کرکې خلاف غږ اوچت کړی دی، ۱۳۹۲ ل کال یې له همدغې ستونزې سره د مبارزې کال نومولی دی او د دلو میاشت کې یې یوه اونۍ په همدې موخه د ټول هېواد په سطحه د کمپاین او هر اړخیز کار لپاره ټاکلې ده چې پدې ترڅ کې به په جوماتونو، ښوونځیو ، مدارسو او پوهنتونونو کې د تعصب خلاف وعظ او درسونه کېږي، لیکنې او بروشرونه به خپرېږي، په رسنیو کې به پدې اړه د ملت د پوهولو هڅه کېږي او د هېواد په لر او بر کې به غونډې جوړېږي او د امن او محبت کاروانونه به په لاره اچول کېږي.

مونږ امیدوار یو چې ان شاء الله دغه هڅه به ګټورې پایلې ولري، د ملت د تجزیې او وېش هڅې به ماتې او ناکامې کړي، هغه دسیسې به لوڅې او بربنډې کړي چې زمونږ د ملي وحدت په لمنځه وړلو سره د افغانستان وېشلو ته زمینه جوړوي او زمونږ دردیدلی او په جګړو او دښمنیو کې سوزیدلی ولس لا هم کړاوونو ته ورټیل وهي، مونږ د ملت د بېلابېلو پرګنو او اقشارو څخه غواړو چې را وړاندې شي او په دغه ګډه اوملي دنده او وجیبه ترسره کولو کې د جمعیت اصلاح مټ او بازو شي، دا د ایماني مسئوولیت ادا ده او ددې وطن خوندیتوب او د ملت مصلحتونه خوندي ساتل د هر با احساسه افغان دنده ده چې باید په ګډه ورته کار وکړي.

اسباب و عوامل افول تمدنها

قسمت دوم

ازنظر قرآن وتجربه های تاریخی

نویسنده: شبیر احمد راقب

ب) عوامل افول تمدن ها در زمینه ی سیاسی:

در بستر سیاسی ممکن عوامل متعددی موجب زوال یک تمدن شود که به مهمترین آنها در اینجا اشاره میکنیم:

۱- **استبداد:** خفقان آور ترین مصیبت در حیات اجتماعی یک ملت، استبداد قشر حاکم است، و استبداد از عوامل مهم در ویرانی یک تمدن به شمار می آید.

معنای استبداد: این واژه به خود نگری و تکگرایی اطلاق میشود. مستبد به شخصی گفته میشود که در کاری که لزوما در مورد آن مشورت صورت بگیرد، به رأی خود اکتفاء میکند. (۱)

استبداد فرمانروایان به شکل ویژه داخل حیطه ی معنای این واژه میگردد، زیرا آنها قویترین انسانهاست که آدمیان را جانداران قرار داده وفق نظرو دید خویش و یا وفق برداشت مذهب، جماعت و تیپ آیده آل خویش بالای این جانداران فرمانروایی میکنند.

در اصطلاح آگاهان سیاسی: کلمه ی استبداد در اصطلاح آگاهان علوم سیاسی عبارت از تصرف مطلق یک شخص و یا جمعی، حقوق یک ملت را بدون اینکه در این زمینه هراس و ترسی داشته باشد. (۲)

از معنای فوق چنین برداشت میشود که در نظام استبدادی، زمام دار کسی است که حواس پنجگانه، قوه ی تخیلی، توهم و تفکر آن همواره به او میگویند که او همه چیز است و دیگران هیچ چیز نیستند. اما در واقع برعکس او یک فرد کاملا تنبل و یا هم مغرور و متکبر است که کار ها و امور را تنها به خود واگذار نموده است از وصف بیش از تنبلی حوصله ی مشوره با دیگران را ندارد و یا به خود عار میداند که با دیگران مشورت کند و حرفش مسترد شود و یا میخواهد که مظهر قدرت و اراده ی همگان باشد.

قرآنکریم، جهت نکوهش حکومت و نظام استبدادی خفقان آور همان حرف ملکه ی سبأ – بلقیس – را ذکر میکند: (**قَالَت إِنَّ الْمُلُوکَ إِذَا دَخَلُوا قَرْیَةً أَفْسَدُو هَا وَ جَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً**) (۳)(**گفت " ملکه ی سبأ " پادشاهان هنگامیکه وارد منطقه ی آبادی می شوند، آن را به فساد و تباهی میکشند، و مردم عزیز آن را ذلیل می سازند، آری! کار آنها همین است**). بلی! سلطنت و حکومت استبدادی در همه جای و در تمام ادوار تاریخ باعث فساد و تباهی ملت ها و تمدن ها بوده است، شخصیت های با شرف یک ملت را که در واقع بزرگترین سرمایه و هسته ی یک ملت است، ذلیل میسازند، زیرا که افراد با شخصیت کنار زده میشوند استعداد های آنها دست ناخورده گذاشته میشود، اما جایگاه برای متملقان و چاپلوسان بی دانش و بی شخصیت واگذار میگردد که در همه چیز سود خود را می جویند.

عامل اصلی و منشأ واقعی استبداد از دید ابن خلدون شخص شاه و خداوندان قدرت و زور میباشد، و در حقیقت زمامداران امور، مسبب اصلی جور، سطوت ، استبداد و خیانت اند، زیرا در بروز و شیوع سطوت جبر، زمامداران و قدرتمندان قلدر به شکل مباشر و غیر مباشر دخیل اند که این استبداد یا بواسطه ی شخص امیر و زمامدار صورت میگیرد و یا هم توسط عمال و دست اندرکاران وی به انجام میرسد، در هردو صورت زمامدار مجرم و ستمگر است، زیرا ستمگری عمال بستگی ناکسستنی به ستمگری و مرز شکنی زمامدار دارد، اگر رئیس و زمامدار جابر و خائن نباشد، اصلا جبر و خیانت عمال تصور نمیشود.

جبر اساسا یک عمل ناپایدار است که پروردگار تحمل این جرم را ندارد، بناء در نتیجه ی استبداد، نظم جامعه برهم میخورد، هرج و مرج پدید می آید و شیرازه ی تمدن و عمران که با نظم و قانون سالاری هم رشته شده است، از بین میرود.

۲- تفرقه: عامل دیگری که در زمینه ی سیاسی باعث زوال و نابودی تمدنها میشود، نفاق و تفرقه گرایی است، این تفرقه به هرعنوان و خطی که باشد سر انجامش زوال و مذلت است، طوریکه وضعیت کنونی تأسفبار جهان اسلام ناشی از همین مصیبت رنج آور است. قرآنکریم در زمینه میفرماید: (وَاعتَصِمُوا بحَبلِ اللهِ جَمِیعاً وَلاَ تَفَرَّقُوا وَذکُرُوا نعمَتَ اللهِ إِذ کَنتُم أَعدَآءً فَأَلَّفَ بَینَ قُلُوبکُم فَأَصبَحتُم بنعمَتِهِ إِخوَاناً وَ کُنتُم عَلَی شَفَا حُفرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنقَذَکُم مِنهَا) (۴) [همه چنگ بزنید به ریسمان پروردگار { شریعت و دین خدا} و پراگنده نشوید؛ و بیاد آورید نعمت

---

[۱]- آقای هانتینگتون چه میخواهد؟ ص۸۹ د. محمد جعفر پاکسرشت.

[۲]- آقای هانتینگتون چه میخواهد؟ ص۹۵ د. محمد جعفر پاکسرشت.

[۳]- سورة أعراف آیة ۳٤.

[٤]- سورة آلعمران آیة ۱۰۳.

پروردگار را که چگونه با هم دشمن بودید؟ و پروردگار در میان دلهای شما الفت و محبت را ایجاد کرد، و به برکت نعمت او باهم برادر شدید، و شما بر لبه ی حفره ی از آتش بودید، اما پروردگار شما را از فرورفتن به آن نجات داد] در این آیت کریمه، به دو پیامد که یکی امت را به اوج عزت و تمدن رسانید و دیگری باعث ذلت و ورشکستگی تمدن سبز گردید، اشاره میکند، نتایج وحدت همان اخوت و همآهنگی است که در نتیجه ی آن مسلمانان بیشتر از هزار سال دنیا را به سوی رشد و توسعه رهبری کردند و از بحر هادی تا به بحر اطلس فرمانروا بودند که در اثر این وحدت استعداد ها و مهارتهای پراگنده را باهم یکجا نموده تمدن بی سابقه ی انسانی را که شهرت و شیرازه اش فضاء را مملو ساخته بود، ایجاد نمودند و در سایه ی تعالیم وحی، یک مشت عرب جاهل بیابانگرد، بارزترین معلمین انسانیت شده طاغوت های چون کسری و قیصر را از عرش سطوت و طغیان به زیر کشیدند و دنیا را پر از عدل و انصاف و انسانیت نمودند که تاریخ بهترین شاهد در این بستر است، اما بیشتر از یک قرن است که این امت در نتیجه ی بروز رویکرد های متعدد و ظهور اختلاف و نفاق، دستخوش چالش ها، سیاست های زیانبار بین المللی و زد و بند های عدیدهٔ شده که هم تمدن سبز اش به سرقت برده شد و هم عظمت و شکوهش فروریخت که به پارچه های خورد و ریزه ی جغرافیوی، نژادی، سمتی، زبانی، مذهبی و حزبی تقسیم شده است که به فلاکت یکدیگر می خندند و استعمار با کمال قوت خون همه ی آنها را می مکد، در نهایت دیدیم که تمدنی با آن عظمت و شکوه که شرق و غرب را تسخیر کرده بود، امروز به سرنوشتی دچار شده است که هر کس هر بلای بخواهد، بر سر آن می آورد. آیا براستی اختلاف و تفرقه هیچ نقشی در زوال یک تمدن ندارد؟

جالب اینجاست که دیگران بعد از تفرقه و پراگندگی به سوی همگرایی و توحد صفوف جلو میروند، همین اروپای پراگنده که سالها بر سر یکدیگر کوبیدند و تنها در همین قرن پیش، دو جنگ جهانی را بر علیه یکدیگر به راه انداختند، اما امروز دست باهم داده شکل یک کشور مقتدر تمدن آفرین را بخود گرفته است، آمریکای امروز از زور گوی و قلدری دعوای سروری جهان را دارد، بیش از هفتاد کشور است که باهم همگرا و همرکاب شده است، اما جهان اسلام هر روز به طرف تجزیه جلو میرود.

۳- تهاون و سستی در دفاع از ارزشها و کشور: دیگر ازعلل و عوامل زوال و نابودی یک تمدن، ضعف و سستی در زمینه ی دفاع از ارزشها و کشور است، زیرا ارزشها منهل قواعد زندگی و تمدن انسانی است و کشور بستر و زادگاه تمدن است که اگر این دو چیز با مخاطره روبرو شود، دیگر از نبود حراست از تمدن، دیوارهای تمدن فرو میریزد و دشمن آنرا به باد نابودی میدهد، از قرآن بشنویم که در این مورد چه میگوید: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلاَّ قَلِيلٌ،إِلاَّ تَنفِرُواْ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلاَ تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللّهُ عَلَي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) (۵) (ای کسانی که ایمان آورده اید! شما را چه شده که وقتی به شما گویند در راه خدا بیرون شوید و کوچ کنید، به زمین سنگینی می کنید، مگر از آخرت به زندگی دنیا راضی شده اید(زندگی دنیا را بر آخرت ترجیح میدهید، اگر چنین است بدانید که) بهره گرفتن از دنیا در قبال آخرت جز اندکی نیست، اگر کوچ نکنید خداوند به عذاب دردناکی عذابتان داده و گروهی غیر از شما را می آورد، و شما (با تخلف خود) به او (الله) ضرر نمی زنید، و او بر هر چیزی توانا است).

چنانکه از آیت فوق ملاحظه میشود، اگر ملتی در راه دفاع از دین، آیین، ناموس و سرزمین خود سستی و کسالت نشان دهد، زوال و نابودی آن ملت امر قطعی و حتمی است و در جای آن ملت دیگری جایگزین میشود، اما این سستی ملت بی احساس به پرودگار هیچ نوع ضرری را متوجه ساخته نمیتواند.

- عدم اطاعت از رهبری سالم: نظام سیاسی در اسلام و در هر نظام دیگر، به دو رکن است که یکی آن اطاعت از أولوالأمر میباشد (تا وقتیکه أولوالأمر از خدا و رسولش اطاعت کند) و دیگرش هم مردم میباشند.

در اسلام چیزی بنام حاکم و محکوم وجود ندارد که زمامدار خود را حاکم مردم فکر کند تا خواسته های دلش را بی باکانه جامه ی عمل بپوشاند، بلکه چه زمامدار و چه عامه ی مردم در برابر احکام خداوند و فرامین شریعت الهی همه رعیت و محکوم اند، و زمام تنها وظیفه دارد تا این احکام و فرامین را تطبیق کند چه این تطبیق به ضرر آنهم تمام شود، زیرا اوجزء از محکومین است، بنا بر این زمامدار در خدمت شریعت و مردم است، و بر مردم واجب است که در مسیر تطبیق شریعت و مصلحت ها از زمامدار اطاعت نموده با وی همکار باشند.

بناء با این گره محکمی که در بین زمامدار و مردم وجود دارد که هردو رکن های نظام سیاسی اسلام اند، هر کدام از این دو عنصر در قبال هم دارای حقوق و تکالیف می باشند که این حقوق را صدیق اعظم خلیفه ی نخست اسلام حضرت ابوبکر صدیق در نخستین بیانیه ی خود بعد از بیعت مسلمانان با وی، در یک جمله ی موجز واضحا با تصریح کامل بیان نموده است که میفرماید:" **أيها الناس إني قد وليت عليكم و لست بخيركم، أطيعوني ما أطعت الله و رسوله، فإن عصيت الله و رسوله فلا طاعة لي عليكم، فإن أحسنت فأعينوني و إن أسأت فقوموني ...**" (۶) { ای مردم! من به شما والی و زمامدار امور تان گردانیده شدم، اما بهتر تر از شما نیستم (که این بهتر بودن من باعث زمامداری ام شده باشد) از من تا آندم اطاعت کنید که من از الله و رسولش اطاعت میکنم، هرگاه از مرز فرامین و اطاعت الله و رسولش پا فراتر گذاشتم، اطاعت من بر شما لازم نیست، اگر کار شایسته ی کردم، من را همکاری و یاری کنید، اما اگر کاری زشت و نا شایسته را مرتکب شدم، من را در راه مستقیم بیاورید..." و خلیفه ی چهارم اسلام حضرت علی – کرم الله وجهه – هنگامیکه به خلافت رسید، در این زمینه چنین گفت: " ای

۵- سورة التوبة آية ۳۸-۳۹.

۶- أقول شمس الحضارة الغربية ص۸۶. مصطفى فوزى غزال.

مردم! من را بر شما و شما را بر من حقی واجب شده است، حق شما بر من این است که از خیر خواهی شما دست نکشم، بیت المال را بین شما به شکل عادلانه تقسیم نمایم، شما را آموزش دهم تا نادان باقی نمانید و شما را تربیت کنم تا رسم و راه زندگی را بشناسید؛ اما حق من بر شما این است که به این بیعت خود وفادار باشید، در نهان و در آشکار خیر خواهم باشید، هرگاه شما را به سوی الله و رسولش فرا خواندم، از من اطاعت کنید"(۷)

از بیانات فوق خلفای سترگ اسلام حقوق و تکالیف این دو عنصر(حاکم و رعیت) در قبال یکدیگر واضحا مشخص میگردد، بنا بر این اگر این تعامل طرفینی و رابطه ی دو سویه وجود نداشته باشد هیچ حکومتی به اهداف خود نائل نخواهد شد، ازینرو است که قرآنکریم حضور مردم در صحنه و نظارت آنها از اعمال حاکم را تحت عنوان اطاعت از أولوالأمر بیان کرده است، و اهمیت این مسئله تا آنجاست که الله متعال این اطاعت را دستور واجب و الزامی قرار داده در قالب صیغه ی امر ذکر میکند که میفرماید: **(یا أَیُّهَا الَّذینَ آمَنُوا أَطیعُوا اللَّهَ وَ أَطیعُوا الرَّسُولَ وَ أُولِی الْأَمْرِ مِنْکُم... ذلِکَ خَیْرٌ وَ أَحْسَنُ تَأْویلاً)** (۸) **[ای کسانی که ایمان آورده اید، ای کسانی که ایمان آورده‌اید! اطاعت کنید خدا را! و اطاعت کنید پیامبر خدا و اولو الأمر (زمامداران امور) تانرا... این برای شما بهتر و عاقبتش نیکوتر است]** در این آیه ی کریمه فرا آورد تمدنی و صلاح اجتماعی اطاعت أولوالأمر، با صراحت ذکر شده است که به شکل سریع روی این فرا آورد ها مرور میکنیم:

– تمدن شگوفای یک ملت بستگی دارد به اطاعت الزامی از رهبریت و مشارکت سیاسی مردم، زیرا در عدم اطاعت پراگندگی و تخطی ها بروز میکند که باعث هرج و مرج نظام و فنای رهبریت میگردد که امنیت را تهدید میکند، و طبیعی است که در صورت عدم امنیت به جای تمدن تخریب تمدن پدید می آید.

– در آیه ی کریمه اطاعت از أولوالأمر، امر خیر تلقی شده است که او همانا تأمین امنیت و تطبیق بی جنجال شریعت است که باعث نزول برکات و ظهور تمدن سبز میگردد.

– اطاعت از أولوالأمر، باعث ایجاد هماهنگی بین امت و مرجع رهبریت میگردد که در نتیجه ی این هماهنگی، یکی بر دیگری خیرخواه و صلاحگر میگردد تا زمامدار دلسوزانه در خدمت مردم باشد و مردم هم با کمال محبت و ادب از آن اطاعت کنند که این خود بهترین فرصت تمدنی است و این همان عاقبت نیکو است که آیت فوق به آن اشاره کرد.

بنا بر این عدم اطاعت از رهبران جامعه، سرنوشت شومی دراد و آن هم زوال و نابودی یک قوم و یک تمدن است که این تجربه ی تلخ عملا در بطن تاریخ امت اسلامی وجود دارد.

ج) عوامل افول تمدنها در زمینه ی اقتصادی:

واژه ی اقتصاد، معنای میانه روی در هر کار را افاده میکند که هرگاه مفهوم این واژه در مجال عملی از معنای مذکور منحرف شود، در آنوقت است که پاره ی از مشکلات بروز میکند.

در زمینه ی اقتصادی نیز عوامل و بواعثی است که موجب زوال و انحطاط یک تمدن میشود که برجسته ترین این عوامل را عجالتا ذکر میکنیم:

نخستین گام انقلاب قرآنی در شمال افغانستان گذاشته شد

پ رسانه یی اصلاح – محمد اکبر مدثر

ه آموزش مربیان قرآنکریم از تاریخ ۲۱ الی ۲۶ جدی در زون شمال ستان برگزار گردید، این دوره که توسط محترم استاد محمد ابراهیم ل مؤسس و بنیانگذاراین روش در افغانستان، در یک هفته برای ۱۸ مربیان قرآن اعم ازمرد و زن که از شش ولایت شمال در کندز گردهم بودند، تقدیم گردید.

ز علوم قرآنی اعجاز، سال گذشته به ابتکار استاد محمد ابراهیم خلیل شهر هرات طوری برنامه ریزی گردیده که یک شاگرد در سنین لف میتواند در مدت خیلی کوتاه قرآن مجید را به شکل روخوانی ت کامل پیدا کند. این مرکز فعلا، با داشتن هشت شعبه در سطح ت هرات و ولسوالی بیش از دوهزار شاگرد از این مرکز قرآنی فارغ یده و عملا بیشتر از ۱۲۰۰ شاگرد مشغول آموزش قرآن مجید میباشد.

لاب قرآنی هدف این مرکز است، و بنابر پلان این مرکز و خواهش قمندان در شمال افغانستان این سیمینار در پنج روز، سه تایم برای ن آموزان به شکل فشرده تقدیم گردید

ر اخیر برنامه ازمشارکین امتحان اخذ و برای اشتراک کننده های واجد ط اجازه تدریس این سیستم از طرف مسؤولین داده شد.

ین روز سیمینار، باتلاوت آیات ازکلام الله مجید آغازشد متعاقبا دسمیع الله دانشیار مسؤول تربیت جمعیت اصلاح درشمال کشور از ر و زحمات و تلاش استادخلیل قدردانی نموده و همچنان از حضور و م گیری فعال مربیان قرآنی از تمامی دفاتر جمعیت اصلاح در ولایات ل تقدیر نموده وایشان را به ادای رسالت های ایمانی شان از جمله ش قران کریم به فرد فرد این ملت متوجه ساخته و توفیقات مزید ن را از الله بی نیاز خواستار گردید. محفل با توصیه و رهنمودهای لازم د خلیل، توزیع تصدیق نامه ها و دعائیهء محترم رحمت الله خطیب به ن رسید.

۷- اندلس مظهر اسلام در اروپا ص۲۱٤. محمد رمضان پور.
۸- سورة النساء آیة ۵۹.

اسلام او نړیوال کېدل

ژباړه : محمد شفیق صادق

محترمو لوستونکو! د نړیوال اسلام او یا اسلامي نړیوالتوب او د اوسني لویدیځوال نړیوالتوب بحث چې د الجزیرې تلویزوني چینل د اسلامي نړۍ له وتلي شخصیت محترم دوکتور صاحب یوسف القرضاوي سره پرې د الشریعة والحیاة په پروګرام کې بحث کړی او د موضوع د اهمیت له امله مې پښتو ته ژباړلی هیله ده چې لوستونکی ترې ښه ګټه اوچته کړي.

عبدالقادر عیاض: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! الله تعالی فرمایي: [وما ارسلناك الی رحمة للعالمین] . یعنې موږ ته نه یې استولی مګر د ټول عالم لپاره رحمت . همدا شان په بل ځای کې فرمایي: [ان الدین عند الله الاسلام] یعنې: د الله لپاره غوره او منل شوی دین یوازې اسلام دی .

د محمدي رسالت له مهمو او غوره ځانګړتیاوو څخه یوه داده چې د دې دین سره د آسماني ادیانو د ختم زیری راغی، چې په دې سره اسلام یو نړیوال دین وګرځېد، نو نن ورځ دا نړیوالتوب څه معنی لري؟ دا نړیوالتوب په فقه او قانون کې هم ځای لري او که یوازې تر عقیدې او تشریع پورې خبره منحصره ده؟ او آیا په سیاست کې هم دا نړیوالتوب راتلای شي؟ په تېره بیا چې ځینې خلك غواړي اسلام په سیمو او هېوادونو سره ووېشي، ځینې د امریکایی اسلام خبره کوي او ځینې د اروپایي، آسیایی او داسې نور ... څه ډول د نړیوال دین او محلي فرهنګ تر منځ بېلوالی راوستلی شي؟... همدا موضوع او ورسره نور تړلي موضوعات به نن د الشریعة والحیاة په دې پروګرام کې له محترم دوکتور یوسف القرضاوي سره مطرح کوو، محترم دوکتور صاحب السلام علیکم په خیر راغلې !

یوسف قرضاوي: وعلیکم السلام مننه !

اسلام د آسماني ادیانو پای دی

عبدالقادر عیاض: محترم دوکتور صاحب! پیل به د رسول الله په دې حدیث سره وکړو چې فرمایي: (بعثت الی الناس کافة و کان الانبیاء تبعث الی اقوام خاصه) یعنې زه ټولو خلکو ته راستول شوی یم، او پخواني انبیاء به خاص قوم ته راستول کېدل.

ددې وینا ترمنځ چې وایي: اسلام د آسماني ادیانو پای او ځای نیونکی دی او داچې اسلام یو نړیوال دین دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول عالم ته راستول شویدی، تر منځ څه تړاو دی؟

یوسف القرضاوي: بسم الله الرحمن الرحیم الحمد الله رب العالمین وأذکی صلوات الله وتسلیماته علی من أرسله ربه رحمة للعالمین وحجة علی الناس أجمعین سیدنا وإمامنا وأسوتنا وحبیبنا محمد وعلی آله وصحبه ومن اتبعهم بإحسان إلی یوم الدین وبعد.هغه څه چې د اسلام دین ته یې په نوروپخوانیو آسماني ادیانو برتري او امتیاز ورکړی دوه څیزونه دي: لومړی داچې دا داسې یو شامل دین دی چې تر کومې خاصې زمانې او وخت پورې تړاو نه لري، دوهم داچې دا داسې یو شامل دین دی چې تر کوم خاص قوم او قبېلې او خاص مکان پورې تړاو نه لري، یعنې دا دین نه تر کوم خاص نسل پورې محدود دی او نه هم تر کومې خاصې پېړۍ پورې.

دا دین د کوم خاص نسل او خاصې پېړۍ لپاره ندی را استول شوی، بلکې دا دین د ټول عصر او ټول عالم لپاره را استول شویدی.

په همدې دین الله تعالی ټول پخواني آسماني ادیان منسوخ او باطل اعلان کړل.

ټولو پخوانیو انبیاوو خپلو خلکو ته د راتلونکي بل نبي او پیغمبر زیری ورکړی دی، هر یوه دا ویلي چې له ما وروسته به بل پیغمبر راځي، دا او هغه کارونه به تر سره کوي، پرته له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه، هغه یواځنی پیغمبر دی چې په ډاګه یې ویلي چې له ما وروسته به بل پیغمبر نه راځي او زه خاتم او وروستی د پیغمبرانو یم، [مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ] دا د اسلام لومړۍ ځانګړتیا ده چې ټول آسماني رسالتونه پرې ختم شول .

دوهمه ځانګړتیا یې دا ده، چې دا نړیوال دین دی، دا دین نه یوازې د عربو لپاره راغلی او نه هم د عجمو لپاره، نه یوازې د ختیځ لپاره او نه هم یوازې د لویدیځ لپاره، نه د کومې ځانګړې ټولنې لپاره بلکې دا دین د ټول عالم او ټولې نړۍ دین دی، په دې اړوند تر لسو زیات آیاتونه را نازل شوي، [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ] (۱۰۷) [الانبیاء، إِنْ هوَ إِلاَ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ)] (۸۷) [ص، إِنْ هوَ إِلاَّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ] (۱۰۴) نون ، [قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا]. الاعراف

ځینو عیسوي مبلغینو او مستشرقینو لیکلي چې محمد لومړی دعوت د مکې د خلکو لپاره پیل کړ، خو وورسته یې بیا وویل، چې زه د ټولې نړۍ لپاره را استول شوي یم، د دوی دا ډول ویناوې په دې دلالت کوي چې دوی له قرآن سره څومره نا آشنا دي، په داسې حال کې چې په مکي آیتونو کې په ډاګه نازل شوي چې محمد د ټول عالم او د ټولو پیغمبر دی الله تعالی فرمايي: [إِنِّي رَسُولُ اللّه إِلَيْكُمْ جَمِيعًا]. الاعراف، زه تاسو ټولو ته د الله تعالی رسول را استول شوی یم.

الله تعالی هر عمل د یوه حکمت په اساس تر سره کوي، کله چې بشریت خپل رشد او کمال ته ورسېد، او پوخ شو، نو بیا دا ایجابوي چې د دې ټول بشریت لپاره دې یو دین او یو رسالت وي، د محمدي رسالت تر مخه نړۍ او بشریت دې ته چمتو نه ؤ چې یو قانون او رسالت دې پرې واکمن وي، خو الله تعالی دا محمدي رسالت داسې جوړ کړ چې د ټولې نړۍ لپاره مناسب جوړ شو. الله تعالی ته دا علم ؤ چې دا نړۍ به داسې سره نژدې کېږي چې د یوه کلي شکل به غوره کوي، نو له همدې کبله دا رسالت همداسې وټاکل شو تر څو د ټولې نړۍ او د ټول وخت لپاره کفایت ولري.

عبدالقادر عیاض: محترم دوکتور صاحب! د عالمین لفظ چې اشاره مو ورته وکړه، د ډېرو معناګانو احتمال لري، لکه الله تعالی چې په دې آیت کې د بني اسرائیلو په برخه کې فرمايي: (وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ) یعنې ما تاسو ته په نور عالم فضیلت درکړی. نو آیا دوی ته په ټول بشر فضیلت ورکول شوی؟ او یا داچې فرمايي: (وَنَجَّيْنَاه وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ۷۱ الانبیاء) او موږ هغه ته نجات ورکړ او لوط ته، هغې ځمکې ته چې موږ ټول عالم ته پکې برکت اچولی دی. نو ددې معنی داده چې د فلسطین ځمکه د ټول عالم ځمکه ده؟ نو که مهرباني وکړئ د عالمین لفظ لږ واضح کړئ؟

یوسف القرضاوي: د [وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ] څخه مطلب دلته دا معنی ده، کله چې الله تعالی د کومې خاصې زمانې لپاره د عالمین لفظ کاروي، مطلب یې د همغې خاصې زمانې خلك دي، چې الله تعالی پرې په نور عالم فضیلت ورکړی ؤ، ځکه همدا ډله خلك په هغه عصر کې د توحید او رسالت خلك وو، نو ځکه یې دوی ته د هغه عصر په نورو خلکو فضیلت ورکړی ؤ، خو کله چې الله تعالی فرمايي [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ] (۱۰۷) او یا هم فرمايي (الْحَمْدُ للّه رَبِّ الْعَالَمِينَ) نو دلته د عالمین څخه مطلب د ټول جهان عالم دی، د ختیځ او لویدیځ ، لکه چې په دې آیت کې الله تعالی په څرګندو ټکو کې فرمايي [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ] (۲۸))موږ ته نه یې استولی مګر د ټولو خلکو لپاره زیری ورکوونکی او وېرونکی خو زیاتره خلك علم نه لري . له دې آیت څخه یوازې انساني عالم هم مراد نه دی، بلکې عالم الجن هم ترې مراد دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم جنیاتو ته هم استول شویدی، کله چې فرمايي :[قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّه اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا] (۱) سورة الجن) دادی د اسلام د دین څوارلس پېړۍ کېږي خو یوه دین هم دا ادعی نده کړې چې دټول عالم او یا ټول زمان لپاره را استول شویدی، پرته د اسلام له دین څخه، پرته د اسلام له رسالت څخه چې له هغې لومړۍ ورځې یې دا اعلان کړی چې دا رسالت د ټول زمان او مکان لپاره را استول شویدی.

عبد القادر عیاض: محترم دوکتور صاحب ! آیا ددې دوو خبرو تر منځ فرق شته چې ووایو: اسلام او نړیوالتوب، او نړیوال اسلام؟

یوسف القرضاوي: کله چې موږ وایوو اسلام او نړیوالتوب، په دې سره هدف د اسلام عطف کول دې نړیوالتوب ته، چې معنی یې ده ،نړیوال رسالت، او د نړیوال اسلام څخه هدف دادی، چې دا یو نړیوال دین دی، دا دین د کومې خاصې ځمکې او خاص اقلیم په ختیځ او یا لویدیځ کې او یا هم د کوم خاص جنس لپاره ندی غوره شوی بلکې دا دین د ټول بشر لپاره را استول شویدی.

عبد القادر عیاض: محترم دوکتور صاحب ! ځینې خلك وایي چې د نړیوال اسلام کلمه یوه مجمله کلمه ده چې څو اړخونه لري، یعنې دا دین په هر ځای کې په هر ډول بل دین نه مني، نو ښه داده چې ووایو : اسلام او نړیوالتوب؟

عبد القادر عیاض: **داچې قرانکریم په عربي ژبه نازل شویدی، په همدې ژبه تلاوت کېږي او په لمانځه کې ویل کېږي ایا دا په نورو غیر عربي قومونو تاثیر نه غورځوي، او ددې سره د اسلام دنړیوالتوب مسئله په بل ډول نه مطرح کېږي؟**

یوسف القرضاوي: **نه! دا خو حتمي ده چې باید په یوه ژبه نازل واي، دا هم ممکنه نه وه چې د ټولې نړۍ په ژبو دې نازل واي، دا حتمي وه چې د را استول شوي پیغمبر په ژبه به را استول کېده، بیا وروسته څه ډول ممکنه وه چې دا دین نورو ته رسېدلای وای، نو لازمه وه چې ژباړه یې شوي واي ، همدا ژباړه معنا نقلوي، اسلام نورو قومونو ته ورسېد، او مختلف قومونه په اسلام کې داخل شول، په ایران کې، په هند، چین، مصر، شمالي افریقا، اوپه ټولو هېوادو کې د دوی ژبې سره بېلې وې، ددوي ټول عادتونه سره بېل وو، دوي په اسلام کې داخل شول، نو داچې اسلام په عربي ژبه نازل شوی، دې مسئلې دا خلک په اسلام کې له شامېدو را ونه ګرځول.**

یوسف القرضاوي: نه دنړیوال اسلام کلمه چې ده دا یوه تعبیر شوې کلمه ده، او د اسلام په شان نړیوال دین بل شته نه، تر دې چې مسیحیت چې نن زمان یو نړیوال دین ځان ته وایي، دا د شرائطو په اساس نړیوال شویدی، په داسې حال کې چې دا نړیوال دین ندی، که چېرې د انجیلونو بیان ته پام وشي، په ښکاره څرګندیږي چې مسیح علیه السلام هېڅکله هم دا ندي ویلي چې زه د ټولې نړۍ لپاره را استول شوی یم، بلکې په صریحو عباراتو یې دا ویلي چې زه د بنې اسرائیلو ګمراه ډلې ته را استول شوی یم .

په انجیل کې به هېڅکله هم داسې څه لکه په دې آیت د قرآن کې چې راغلي ونه ویني،{ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وأُنثَى وجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ}، {يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ واحِدَةٍ وخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً ونِسَاءً}، {يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ}،په دې آیتونو کې ټول خطاب د خلکو په نوم راغلی، ای خلکو، ای بنې آدمانو، نو د اسلام خطاب چې دی پرته له ځینو ځایونو چې اهل کتابو ته متوجه دی او یا ځینو نورو ته ټولو خلکو ته متوجه دی.

عبد القادر عیاض: دا خطاب او اړیکې یې له نړیوالتوب سره، آیا د اسلام نړیوالتوب یوازې په دې کې دی چې هغه خطاب چې رسول الله صلی الله علیه وسلم را وړی، هغه لازم دی ټول بشر ته؟

یوسف القرضاوي: نه داسې نده، دا خو صحی ده چې په دې خطاب سره ټول خلك ملزم دي، هغه خطاب چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړی، که هغه دده په ژبه دی، که هغه قرآن کریم پرې نازل شوي، یا قرآني بیان دی، او قرآني ابلاغ دی، او یا نبوي بیان دی ، دا ټول نړیوال دي، ددې سره سره اسلام خپل نړیوال توب په عبادت کې، په اخلاقو کې ، په تشریع کې، په علمي اړخ کې هم ثابت کړی، سره ددې چې په عربي ژبه او عربي وطن کې او د عربي پیغمبر په ژبه نازل شوی، خو بیا یې هم خپل نړیوالتوب په عبادت کې، په معاملاتو کې، په اخلاقو کې، په تشریع کې ساتلی دی، نو ټول تشریعات یې، ټول اخلاقیات یې او ټول شعائر یې نړیواله بڼه لري .

عبد القادر عیاض: داچې قرآنکریم په عربي ژبه نازل شویدی، په همدې ژبه تلاوت کېږي او په لمانځه کې ویل کېږي آیا دا په نورو غیر عربي قومونو تأثیر نه غورځوي، او ددې سره د اسلام دنړیوالتوب مسئله په بل ډول نه مطرح کېږي؟

یوسف القرضاوي: نه! دا خو حتمي ده چې باید په یوه ژبه نازل وای، دا هم ممکنه نه وه چې د ټولې نړۍ په ژبو دې نازل وای، دا حتمي وه چې د را استول شوي پیغمبر په ژبه به را استول کېده، بیا وروسته څه ډول ممکنه وه چې دا دین نورو ته رسېدلای وای، نو لازمه وه چې ژباړه یې شوی وای ، همدا ژباړه معنا نقلوي، اسلام نورو قومونو ته ورسېد، او مختلف قومونه په اسلام کې داخل شول، په ایران کې، په هند، چین، مصر، شمالي افریقا، اوپه ټولو هېوادو کې د دوی ژبې سره بېلې وې، ددوی ټول عادتونه سره بېل وو، دوی په اسلام کې داخل شول، نو داچې اسلام په عربي ژبه نازل شوی، دې مسئلې دا خلك په اسلام کې له شاملېدو را ونه ګرځول.

د احمد شابابا په مېنه کې

د سیرت النبی صلی الله علیه وسلم دوره پای ته ورسېده.

راپور: **انجینیر محمد قاضي نیازی**

دجمعیت اصلاح دساحوي دفترپه نوښت د ارزان قیمت(احمد شاه بابا مېنه) په څلورم بلاك دابراهیم خلیل الله په جامع جومات کې د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم پنځه ورځنۍ دوره چې د جدي په(۱۳۹۲/۱۰/۲۳) نېټه پیل شوې وه او د مبارکې جمعې په ورځ په (۱۳۹۲/۱۰/۲۷)نېټه پای ته ورسېده.

دیادې دورې دتدریس چارې محترم قاري صیب شاه محمود ته سپارل شوې وې، محترم قاري صیب په دغې پنځه ورځنۍ دوره کې په لاندی موضوعاتو باندې رڼا واچوله:

۱ - دعربو حالت له اسلام نه وړاندې.

۲ - د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم میلاد.

۳ - مکي دعوت.

۴ - د رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت.

۵ - د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د رسالت مختصره خلاصه او وفات.

په یاده دوره کې تقریبا هره ورځ ۸۰ کسانو ګډون درلود، د دورې په وروستۍ ورځ یوه په زړه پوري سیالي هم ترسره شوه او بریالي ګډونوالو ته جایزې ورکړل شوې.

دغونډې په پای کې د جمعیت اصلاح د ساحوي څانګې مسؤول مولوي صاحب غوث الدین ګډونوالو ته د جمعیت اصلاح افغانستان په فعالیتونو باندې هر اړخیزې خبرې وکړې او خلکو ته یې دجمعیت اصلاح افغانستان موخې او اهداف بیان کړل.

غونډه دمحترم مولوي صیب فضل الرحمن په دعا پای ته ورسېده.